
# د فرښتو دُعا ګاني واخلئ!

18-December-2025



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے
د سُنّتو ډک بيان

(For Islaic Brothers)

پهٔ 18 دسمبر، کال 2025ء (بمطابق: 26 جمادي الاخرئ، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د فرښتو دُعاګانې واخلئ!

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... بے ګناه ژبې
- ...د وړومبي صف فضائل
- ... د مريض تپوس کول سُنَّت دي
- ... د مخلوق د شميرې برابر نيکۍ

پيشکش
اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبه : بياناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: مسلمان چې د خو پورې پۀ ما باندې دُرُود شریف لولي فرښتے به پۀ هغۀ باندې رحمتونه لیږي، اوس د بنده خوښه ده کم لولي او که زیات.[1]

| | |
|---|---|
| ہادی و رہبر و امام تم پہ درود اور سلام | بخشش و رحمت تمام، تم پہ درود اور سلام |
| حُسنِ کرم تمہاری بات، حُسنِ عطا تمہاری ذات | حُسن ہی حُسن ہو تمام، تم پہ درود اور سلام ( 2 ) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے.[3]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي.

[1] ...ابن ماجه، کتاب اقامة الصلاة و السنة فیها، باب الصلاة علی ... الخ، صفحه:152، حدیث:907۔
[2] ...ارمغانِ ادیب، صفحه:134 ملتقطاً۔
[3] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پۀ اَدب به کښينم ❁ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## فرښتے ورته دُعا وښودله

حضرت عِرباض بن سَارِيَه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ صحابئِ رسول دے. اِمام اِبنِ اَبِي دُنيا رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه روايت ذِکر کړے دے، ليکلي يې دي چې حضرت عِرباض رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د **اللّٰه** پاک سره د ملاقات ډير شوق لرلو. هغوئي د ضعيفیِ عمر ته رسيدلے وو. يوه ورځ د دِمشق پۀ جامع مسجد کښې وو، نمونځ يې اوکړو، بيا يې دُعا شروع کړه: يا **اللّٰه** پاکه! اوس خو زۀ بوډا والي ته رسيدلے يم، اوس خو راته پۀ خپله پاکه بارګاه کښې د حاضرئ سعادت راعطا کړې.

فرمائي: بيا ما يو ځوان وليدو، ډير ښائسته وو، شين ځادر يې اچولے وو او زما خوا له راغلو، اوئې وئيل: حضرت...!! دا تاسو څۀ دُعا کوئ؟ ما ووئيل: نو تۀ راته ووايه چې څنګه دُعا اوکړم...؟ هغه ووئيل: داسې ووايه!

اَللّٰهُمَّ حَسِّنِ الْعَمَلَ وَبَلِّغِ الْاَجَل

**ترجمه:** يعنې اے **اللّٰه** پاکه ما ته د نيک اعمالو توفيق هم راکړې او پۀ نيک اعمال کولو کولو مې د مرګ مقرر کړے شوي وخت ته ورسوې.

صحابئِ رسول حضرت عِرباض رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما د هُغه ځوان نه پوښتنه اوکړه: **اللّٰه** پاک دې پۀ تا باندې رحم اوکړي، تۀ څوک يې؟ هغۀ ووئيل: زۀ زَنَائِيل (*Zana'il*) فرښته يم، د کومو مسلمانانو پۀ زړۀ کښې چې غم وي، زۀ هغوئي له تسلي

ورکووم. پهٔ دې وئیلو هغه فرښته واپس لاړه او د سترګو نه پناه شوه.[1]

## د روایت نه میلاؤیدونکے سبق

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې روایت نه مونږ ته یو څو خبرې د زدکړې د پاره میلاؤیږي: (1): پهٔ وړومبي نمبر خو د حضرت عِرباض رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شان ته وګورئ چې هغوئ د اللّٰه پاک پهٔ بارګاه کښې د حاضرۍ شوق هم لرلو او دې د پاره به يې دعاګانې هم کولې.

د دې نه معلومه شوه چې زمونږ پهٔ زړهٔ کښې هم د اللّٰه پاک پهٔ حُضُور کښې د حاضرۍ شوق پکار دے. پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: مَنْ اَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ اَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ یعنې څوک چې د اللّٰه پاک سره د ملاقات شوق لري، رَبِّ کریم د هغهٔ سره ملاقات خوښوي.[2]

دلته اوس دا یوه باطِني بیماري راغلې ده او هغه دا چې مونږ د دُنیا سره ډیر زیات محبت شروع کړے دے. پهٔ حدیثِ پاک کښې دا د دې اُمت تباهي او د نقصان سبب ګرځولے شوے دے. یو لفظ دے: وَهْن. دا لفظ پهٔ حدیثِ پاک کښې راغلے دے. د دې معنیٰ څهٔ ده؟ راځئ چې حدیثِ پاک واورو. رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: یو وخت به راشي چې ستاسو شمیره به ډیره وي خو ستاسو حیثیت به د سیلاب د ځګ پهٔ شان شي، د دښمن د زړهٔ نه به ستاسو رُعب ختم شي.

د دې زوال سبب به څهٔ وي؟ اخري نبي، غیب دان نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: لَيَقْذِفَنَّ اللهُ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهْنَ یعنې اللّٰه پاک به ستاسو پهٔ زړونو کښې وَهْن واچوي. پوښتنه وشوه: وَهْن څهٔ شے دے؟ اوئې فرمائیل: حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ یعنې د دُنیا محبت او

---

1...موسوعه ابن ابي دنیا، کتاب الهواتف، جلد:2، صفحه:513، رقم:150۔

2...ابن ماجه، کتاب الزهد، باب ذکر الموت...الخ، صفحه:691، حدیث:4264۔

د مرګ نفرت (نهٔ خوښول). (1)

اَللّٰهُ اَكْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې د دُنيا پهٔ ژوند باندې مطمئين کيدل، د دې سره محبت ساتل او د **الله** پاک پهٔ بارګاه کښې حاضريدل نهٔ خوښول باطِني بيماري ده، کومه چې د اُمت د زوال سبب دے. **الله** پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي، پکار دي چې مونږ نيک کارونه کوو، د ګناهونو نه بچ اوسو او د **الله** پاک د حاضرئ شوق پهٔ زړهٔ کښې زياتوو.

محبّت میں اپنی گما یا الٰہی! | نہ پاؤں میں اپنا پتا یا الٰہی!
رہوں مست و بے خود میں تیری وِلا میں | پلا جام ایسا پلا یا الٰہی! (2)

(2): خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د روايت نه دويمه خبره دا معلومه شوه چې د **الله** پاک پهٔ بارګاه کښې د حاضرئ شوق وي نو دې د پاره دُعا پهٔ محتاطو الفاظو سره کول پکار دي.

ياد ساتئ چې د دُنيا د پريشانو، مصيبتونو او بيمارو وغيره نه د تنګيدو سره د مرګ دُعا کول منع دي. صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خو د **الله** پاک د ديدار پهٔ شوق کښې دُعا کوله، حضرت زَنَائِيل (*Zana'il*) عَلَيْهِ السَّلَام فرښتے د دې هم محتاط الفاظ وښودل چې داسې دُعا کوئ!

اَللّٰهُمَّ حَسِّنِ الْعَمَلَ وَبَلِّغِ الْاَجَلَ

ترجمه: يعنې اے **الله** پاکه ما ته د نيک اعمالو توفيق هم عطا کړې او پهٔ نيک اعمال کولو کولو مې د مرګ مقرر کړے شوي وخت ته ورسوې.

---

1... ابو داود، کتاب الملاحم، باب فی تداعی الامم...الخ، صفحہ:675، حدیث:4297۔
2... وسائلِ بخشش، صفحہ:105۔

لهذا د **الله** پاک پۀ حضور کښې د حاضرئ شوق ضرور ساتئ! البته دې د پاره که دُعا کول وي نو پۀ داسې الفاظو سره يې کوئ چې د نيک اعمالو توفيق هم غواړئ او دا هم غواړئ چې يا **الله** پاکه! ما ته د اخري وخته پورې د نيک کار کولو توفيق راعطا کړې.

د مسلمانانو وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به داسې دُعا کوله:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ خَيْرَ عُمُرِى آخِرَهٗ وَخَيْرَ عَمَلِىْ خَوَاتِمَهٗ وَخَيْرَ اَيَّامِىْ يَوْمَ اَلْقَاكَ

ترجمه: اے **الله** پاکه زما اخري عمر د ژوند د ټولو نه بهترينه حصه جوړه کړې، زما اخري اعمال د ټولو نه بهترين اعمال جوړ کړې او زما پۀ ورځو کښې د ټولو نه بهترينه ورځ هغه جوړه کړې، پۀ کومه ورځ چې ستا پۀ حُضُور کښې حاضري وي. (1)

دا ډيره ښکلې دُعا ده. مونږ له هم پکار دي چې داسې دُعا کوو.

مِرے دل سے دنیا کی چاہت مٹا کر | کر اُلفت میں اپنی فنا یاالٰہی!
عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یاخدا یاالٰہی! (2)

(3): خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پۀ بيان کړے شوي روايت کښې چې يوه بله اهمه خبره کومه مونږ ته د زده کولو د پاره ميلاؤ شوه، هغه دا: د حضرت زَنَائِيل (*Zana'il*) عَلَيْهِ السَّلَام فرښتے ډيوټي. هغوئي پۀ خپل تعارف کولو وفرمائيل: اَنَا زَنَائِيلُ الَّذِیْ يُسَلِّى الْحُزْنَ مِنْ صُدُوْرِ الْمُؤْمِنِيْنَ يعني زۀ زَنَائِيل (*Zana'il*) يم او زما ډيوټي دا ده چې د مسلمان پۀ زړۀ کښې که چرته څۀ غم، پريشاني وي نو زۀ هغۀ له تسلي ورکووم.

سُبْحٰنَ الله! د مسلمان شان ته وګورئ! پۀ مونږ ايمان والؤ باندې د **الله** پاک کرم ته وګورئ! رَبِّ کائنات د حضرت زَنَائِيل (*Zana'il*) عَلَيْهِ السَّلَام باقاعده ډيوټي لګولې ده

---

1...مصنف ابن ابی شیبه، کتاب الدعا، ما ذکر عن...الخ، جلد:7، صفحه:81، حدیث:1۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:105ملتقطاً۔

چې کله هم څوک مسلمان پریشانه وي، په غم کښې اخته وي نو هغهٔ له تسلي ورکوه..!!
سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې زمونږه د حضرت زَنَائِيل (*Zana'il*) عَلَيْهِ السَّلَام فيضان نصيب کړي، کاش چې د هغوئي په وسيله او د هغوئي په ذريعه په زمونږ غمونو کښې تسلي نصيب شي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## په بے ګناه ژبه دُعا کوه...!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دُعا ډير اهم عبادت دے بلکې دا مُخُّ الْعِبَادَةِ يعنې د عبادت مغز ګرځولے شوے دے.(1)

د دُعا په باره کښې يوه قاعده ده چې که په هٰغه ژبه باندې دُعا اوکړے شي، په کومه چې مونږ ګناه نهٔ وي کړې، داسې دُعا زر اثر ښائي. الله پاک حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته فرمائي: اے موسیٰ! په هٰغه ژبه دُعا اوکړه! په کومه چې تا ګناه نهٔ وي کړې.

(حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام خو اَلْحَمْدُ لِله! نبي دے، هغوئي خو په خپله خُله چرې هم ګناه نهٔ د کړې، نبيان خو معصومه دي، د ګناهونو نه بالکل پاک وي، البته) حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: يا الله پاکه! داسې ژبه د چرته نه راوړم په کومه چې ما چرې هم ګناه نهٔ وي کړې؟ اوئې فرمائيل: اے موسیٰ! د نورو په ژبو دُعا کوه! ځکه چې په هغې تا ګناه نهٔ ده کړې.(2)

سُبْحٰنَ الله! دا د حکمت او د راز خبره ده، که د دعاګانو اثر ليدل غواړئ نو په نورو خلقو ځان ته دعاګانې کوئ، مونږه خطاکار انسانان يو، په خپله خُله باندې څهٔ څهٔ نهٔ کوو؟ ❀ کله دروغ ❀ کله غيبت ❀ چغلي ❀ وعده خلافي پته نهٔ لګي چې څهٔ څهٔ

---

1...ترمذی، کتاب الدعوات، صفحہ:777، حدیث:3371۔

2...مثنوی معنوی، دفتر سوم، امر حق تعالیٰ بہ موسی...الخ، صفحہ:279، بیت:181180۔

پرې کوو خو د نورو په ژبو خو مونږ چرې ګناه نهٔ ده کړې، ځکه په هغوئي دعاګانې کوئ، اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! زر به یې اثر ښکاره کیږي .

## بے ګناه ژبې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! داسې ژبې هم شته، په کومو چې مونږ خو هډو ګناهونه نهٔ دي کړي، بلکه هُغه ژبو هم که ګناه نهٔ وي کړي. د هغوئي نه وړه شان ګناه هم نهٔ کیږي، په هُغه ژبو د ځان د پاره د دعاګانو کولو طریقې عرض کووم. هُغه ژبې کومې دي؟ د فرښتو ژبې.

مونږ په خپل مینځ کښې په یو بل باندې دعاګانې کوو، کول هم پکار دي. ښه خبره ده. البته مونږ عام انسانان یو، چا ته مو د دُعا د پاره ووئیل نو د هغهٔ نه هیریدے هم شي، کیدے شي چې دُعا خو اوکړي خو د زړهٔ نه یې اونکړي. په فرښتو باندې دُعا اوکړئ! فرښتے یې هیروي هم نهٔ او کومې دُعاګانې چې کوي نو ډیرې په اِخلاص سره یې کوي، اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیم! د دعاګانو اثر به ډیر زر ښکاره شي.

د فرښتو دعاګانې به مونږ څنګه اخلو؟ یو څو طریقې درته عرض کووم:

## د فرښتو د دعاګانو اخستلو طریقې

په 24 سیپاره، سوره غافِر، آیت: 7 کښې **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَلَّذِیْنَ یَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَ مَنْ حَوْلَهٗ یُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَ یُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَ یَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ۚ رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَیْءٍ رَّحْمَةً وَّ عِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِیْنَ تَابُوْا وَ اتَّبَعُوْا سَبِیْلَكَ وَ قِهِمْ عَذَابَ الْجَحِیْمِ ﴿۷﴾ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: عرش اوچتوونکي او د هغې نه ګیر چاپیره (فرښتے) د خپل **رَبّ** د تعریف سره د هغهٔ پاکي بیانوي او په هغهٔ ایمان لري او د مسلمانانو بخښنه غواړي. اے زمونږه **ربه**! ستا رحمت او عِلم د هر څیز نه پراخه دے نو هُغه خلق وبخښې کوم چې توبه اوکړي او ستا د لارې تابعداري اوکړي او هغوئي د دوزخ د عذاب نه وساتې. |

سُبْحٰنَ الله! حامِلِينِ عَرش يعنې عرش اوچتوونکې فرښتې...!! دا ډيرې د فضيلت والا فرښتې دي، دا مقدسې فرښتې د مسلمانانو د بخښنې دُعاګانې کوي، د چا د پاره دعاګانې کوي؟ فرمائي:

| | |
|---|---|
| لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: کوم چې توبه اوکړي او ستا د لارې تابعداري اوکړي. |

يعنې څوک چې د **الله** پاک په حضور کښې توبه کوي او د **الله** پاک په ښودلے شوې لاره باندې ځي، حامِلِينِ عرش د هغوئي د پاره دعاګانې کوي: يا **الله** پاکه! هغوئي وبخښې او هغوئي د دوزخ د عذاب نه هم بچ کړې.

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د حامِلين عرش فرښتو د دعاګانو اخستو طريقه دا ده چې مونږ توبه کړو.

## توبه کوونکے د الله پاک خوښ دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له توبه کول پکار دي، توبه بهترين بلکې د **الله** پاک محبوب جوړونکے عبادت دے. **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ (پاره:2، سورهٔ بقرة:222) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه **الله** د ډيرې توبې کوونکو سره محبت فرمائي. |

معلومه شوه چې کوم بنده په کثرت سره توبه کوي، **الله** پاک هغه خپل محبوب جوړوي.

اَللهُ اَكْبَر! وګورئ چې دا څومره اوچت شان دے، د **الله** پاک محبوب يعنې خوښ بنده جوړيدل څۀ اسان کار خو نۀ دے، دا څۀ معمولي مرتبه خو نۀ ده، **الله** پاک د ټولو جهانونو رَبّ دے، د ټولو جهانونو خالق دے، څوک چې د دې کريم مالِک خوښ شي، د هغۀ سره د څۀ کمے پاتې کيږي...؟ صوفيائے کرام فرمائي: مَنْ لَهُ الْمَوْلٰى فَلَهُ الْكُلّ څوک چې د

اللّٰه پاک شي، هر څهٔ د هغهٔ شي. (1)

معلومه شوه چې تَوبه هُغه عظیم نعمت دے چې کوم بنده توبه کوي، هغه د اللّٰه پاک محبوب جوړيږي او څوک چې د اللّٰه پاک محبوب شي، د هغهٔ دا مرتبه نصيب کيږي چې هر څهٔ د هغهٔ شي، نهٔ د هغهٔ پهٔ دُنيا کښې څهٔ کمے پاتې کيږي، نهٔ پهٔ اخرت کښې څهٔ خطره پاتې کيږي.

| | |
|---|---|
| مَت گُناہوں پہ ہو بھائی بے بَاک تُو | بُھول مَت یہ حقیقت کہ ہے خَاک تُو |
| تھام لے دَامَنِ شاہِ لَوْلَاک تُو | سچّی تَوبہ سے ہو جائے گا پاک تُو (2) |

## د توبې يو څو فائدې

تَوبه کوونکے ډير د اوچتې مرتبې والا وي ❁ څوک چې توبه کوي، د هغهٔ کاميابي نصيب کيږي ❁ څوک چې توبه وکړي، اللّٰه پاک هغه خپل محبوب جوړ کړي ❁ پهٔ هغهٔ باندې رحمت وريږي ❁ د هغهٔ ګناهونه ختمولے شي ❁ د قيامت پهٔ ورځ به هغهٔ ته جَنَّت عطا کولے شي ❁ د دوزخ نه به يې نجات نصيب کيږي ❁ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! دُنيا به يې هم ښه شي او اخرت به يې هم ښهٔ شي.

لهذا مونږ له توبه کول پکار دي! که مونږ د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ عطا کړے شوو 72 نيک اعمالو باندې پوره عمل اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د نورو ښو عادتونو سره سره به مو د توبې توفيق هم نصيب شي. پهٔ 72 نيک اعمال کښې نيک عمل نمبر: 28 دے: آيا نن تاسو مَعَاذَ اللّٰه! د ګناه کولو پهٔ شکل کښې فوراً توبه کړې ده؟ پهٔ دې نيک عمل باندې کلک عمل اوکړئ! ورسره د شپې کم از کم دوه

---

1...سبع سنابل، سنبلۀ سوم در ترک و قناعت و توکل وتبتل، صفحه:92۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:656 ملتقطًا۔

ركعته د توبې د نـمونځ كولو عادت جوړ كړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د حامِلِينِ عرش فرښتو د دعاګانو نه به مو حصه نصيب شي. **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راعطا كړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

عمل کا ہو جذبہ عطا یاالٰہی! | گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی!
ہو اَخلاق اچھا ہو کردار سُتھرا | مُجھے متّقی تُو بنا یاالٰہی! (1)

## په ورومبي صف كښې نـمونځ كوئ!

په اِبنِ ماجه شريف كښې دي، رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بے شكه **اللّٰه** پاک او د هغهٔ فرښتے په ورومبي صف والؤ باندې رحمتونه ليږي.(2) يعنې كوم بنده چې په ورومبي صف كښې د نـمونځ كولو سعادت حاصلوي **اللّٰه** پاک په هغهٔ باندې رحمتونه ليږي او فرښتے د هغهٔ د پاره د رحمتونو دعاګانې كوي.(3)

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اندازه ولګوئ چې په زرګونو فرښتے چې د كوم بنده د پاره د رحمت دعاګانې كوي، څهٔ فرمائے؟ آيا د هغهٔ به هُم رحمت نهٔ نصيب كيږي...؟ نصيب كيږي به، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ضرور به نصيب كيږي او د چا چې د **اللّٰه** پاک صرف هُم يو رحمت نصيب شي، د هغه دُنيا به هم ښه شي او اخرت به يـې هم ښهٔ شي.

ځكه د فرښتو د دعاګانو اخستو د پاره په ورومبي صف كښې د نـمونځ كولو عادت جوړ كړئ!

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:104102ملتقطاً۔

2...ابن ماجه، كتاب اقامة الصلاة والسنة فيها، باب فضل الصف المقدم، صفحه:164، حديث:999۔

3...مراة المناجيح، جلد:2، صفحه:186 ملتقطاً بتغير۔

## د وړومبي صف والا مخکښې کيدونکي دي

الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَلَقَدۡ عَلِمۡنَا ٱلۡمُسۡتَقۡدِمِينَ مِنكُمۡ (پاره:14، سورۂ حِجر:24)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او بے شکه مونږه په تاسو کښې مخکښې کيدونکي هُم پيژنو.

د يو روايت مطابق په دې آيت کښې د مُستَقْدِمِين (يعنې د مخکښې کيدونکو) نه مُراد په وړومبي صف کښې نـمونځ کوونکي دي. د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما نه روايت دے چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ځل د جَمعې سره په وړومبي صف کښې د کيدونکي نـمونځ فضيلتونه بيان کړل نو صحابۂ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم د وړومبي صف حاصلولو ډير کوشش شروع کړو او د هغوئي ګنه جوړه شوه او د کومو کسانو کورونه چې د جومات مبارک نه لرې وو هغوئي د خپلو کورونو د خرڅولو او د جومات سره په خوا کښې کور اخستو ته تيار شول د پاره د دې چې په وړومبي صف کښې د ځائے ميلاؤيدو نه چرې هم محرومه پاتې نۀ شي. په دې باندې دا آيت مبارک نازل شو او هغوئي له تسلي ورکړے شوه چې ثواب په نيتونو باندې دے او الله پاک وړومبني هم پيژني او څوک چې د عذر په وجه وروستو پاتې شول هغوئي هم پيژني او د هغوئي د نيتونو نه هم خبر دے او د هغۀ نه هيڅ پټ نۀ دي.(1)

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د صحابۂ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم. د عبادت جذبې ته وګورئ! د وړومبي صف د ثواب موندلو د پاره دا هستياني د خپلو کورونو خرڅولو او د جومات سره نزدې کورونو اخستو ته تيار شول د پاره د دې چې تادي اوکړي او په تادۍ تادۍ جومات ته لاړ شي او په وړومبي صف موندلو کښې کامياب شي...!!

---

1 ...تفسير صراط الجنان، پاره:14، سورۂ حِجر، زيرِ آيت:24، جلد:5، صفحه:223۔

آه! يو مونږ يو، وړومبے صف خو غټه خبره ده، اخري صف بلکې د جَمعې اخري رکعت ته پۀ رسيدو کښې هم بعضې وخت نۀ کاميابيږو، **الله** پاک دې مونږ معاف کړي، څومره نـمونځ کوونکي داسې دي د کومو نه چې جَمعه هم قضا کيږي بلکې ډير مسلمانان داسې هم دي کوم چې هډو جوماتونو ته نۀ ځي.

**الله** پاک دې زمونږ پۀ حال باندې رحم اوکړي! ياد ساتئ چې د جومات د وړومبۍ جَمعې سره نـمونځ کول واجب دي، بغير د مجبورۍ نه جَمعه پريښودل ګناه او دوزخ ته بوتلونکے کار دے.(1)

## جَمعې سره د نـمونځ کولو فضيلتونه

د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما د دواړو جهانو د سردار، د مدينے د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي چې **الله** پاک د جَمعې سره نـمونځ کوونکي خوښوي. (2)

حضرت ابو سعيد خدرِي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بيانوي: د **الله** پاک اخري رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: کله چې بنده د جَمعې سره نـمونځ اوکړي بيا د **الله** پاک نه د خپل حاجت (يعنې ضرورت) سوال اوکړي نو **الله** پاک د دې خبرې نه حيا فرمائي چې هُغه بنده د حاجت پوره کيدو نه مخکښې واپس لاړ شي. (3)

جماعت سے گر تو نمازیں پڑھے گا | خدا تیرا دامن کرم سے بھرے گا

**پۀ يو حديثِ پاک کښې دي:** د نارينه نـمونځ پۀ جومات کښې د جَمعې سره، پۀ

---

1...فتاوٰی رضويه، جلد:7، صفحه:199۔

2...مسند احمد، جلد:2، صفحه:309، حديث:5112۔

3...كَنْزُ الْعُمَّال، كتابُ الصّلوٰة، جز:7، جلد:4، صفحه:227، حديث:20239۔

کور کښې او په بازار کښې د کولو نه 25 درجې زيات دے.(1)

او په يو حديثِ پاک کښې دي: د جَمعې سره نـمونځ د ځانله نـمونځ کولو نه 27 درجې زيات دے.(2)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! فرض کړئ چې د چا سره د تجارت سامان دے، که هغه دا په خپل ښار کښې خرڅوي نو د هغې قيمت به 100 روپۍ وي او که سمندر پورې ځي او هلته هُغه سامان خرڅوي نو په 2500 يا 2700 روپۍ به خرڅيږي نو هغه به يقيناً چې سمندر پورې تلل او خپل مال هلته خرڅول خوښوي ولې چې 25 چنده يا 27 چنده ګټه به څوک پريږدي! افسوس چې د دُنيا د دولت زياتولو د پاره خو د لرې لرې پورې سفر ته تياريږو خو د کور نه په څو قدمه تللو په جومات کښې د جَمعې سره په نـمونځ کولو په يو نـمونځ د 27 نـمونځونو په ثواب ګټلو کښې بعضې خلق ناراستي کوي او هُم په کورونو کښې نـمونځ کوي.

بھائی مسجد میں جماعت سے نمازیں پڑھ سدا | ہوں گے راضی مصطفٰے، ہوجائے گا راضی خدا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰی مُحَمَّد

## په وړومبي صف کښې د نـمونځ کولو ثواب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ له پينځه واړه نـمونځونه کول پکار دي، د جَمعې سره نـمونځ کول پکار دي او په کوشش کولو په وړومبي صف کښې کول پکار دي. په حديثِ پاک کښې دي: که چرې خلقو ته معلومه وے چې په وړومبي صف کښې د نـمونځ کولو دومره ډير ثواب دے نو په دې باندې به يـې قرعه اندازي

1...بُخاری، کتاب الاذان، باب فضل صلاۃ الجماعۃ، صفحہ:223، حدیث:646۔

2...بُخاری، کتاب الاذان، باب فضل صلاۃ الجماعۃ، صفحہ:223، حدیث:645۔

(خسنې) ويشتو.[1]

يعني هر يو به په وړومبي صف کښې ودريدل غوښتل او د ځائے د کميدو په وجه به يې فيصله په خسنې کوله.

## د وړومبي صف نه محرومه کيدل د ناراستۍ سبب دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په وړومبي صف کښې نمونځ کول هم ډير د فضيلت کار دے، ورسره د دې نه محرومي ډيره لويه محرومي هم ده. په حديثِ پاک کښې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: قوم به په صف کښې وروستو کيږي تر دې پورې چې الله پاک دوئي په وور کښې وروستو کړي.[2]

يعني چې کوم خلق د ناراستۍ په وجه په وړومبي صف کښې ناوخته کوي يا په وړومبي صف کښې د ځائے کيدو باوجود وروستو ودريږي نو هغوئي به د دِين په ټولو کارونو کښې سست شي او په ګناهونو باندې به ډاډه شي، د کومې نتيجه چې به دا شي چې دوزخ ته به ځي او هلته به د ډيرې مودې پورې وي.[3]

اَللّٰهُ اَكْبَر! الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي. نيت اوکړئ چې د نن نه به ټول نمونځونه د جَمعې سره په وړومبي صف کښې ادا کوو. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

دا به څنګه کيږي...؟ اسانه شان خبره ده، کوشش اوکړئ! چې د اذان کيدو نه مخکښې جومات ته لاړ شئ، که دا نشي کيدے نو کم از کم په اذان کيدو کار پريږدئ او د جومات طرف ته روان شئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په وړومبي صف موندلو کښې به کامياب شئ.

---

1...بخاری، کتاب الاذان، باب الصف الاول، صفحه:238، حديث:720۔

2...ابو داود، کتاب الصلاة، باب صف النساء...الخ، صفحه:119، حديث:679۔

3...مراة المناجيح، جلد:2، صفحه:189۔

## د نـمونځ پۀ ځائے کښې ناست اوسئ...!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د فرښتو د دُعاګانو موندلو بله طريقه واورئ! د مُسلِم شريف حديثِ پاک دے، د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بے شکه بنده چې تر څو پورې خپل (د نـمونځ) پۀ ځائے باندې ناست اوسي چرته چې هغۀ نمونځ کړے وي، نو تر څو پورې چې د هغۀ اودس مات نۀ شي فرښتے پۀ هغۀ باندې درود ليږي، فرښتے وائي: اَللّٰھُمَّ اغْفِرْ لَہٗ، اَللّٰھُمَّ ارْحَمْہُ اے **الله** پاکه! دا وبخښې، اے کريم مالِکه! پۀ دۀ باندې رحم اوکړې.(1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! وګورئ چې د فرښتو د طرف نه د رحمت او د بخښنې د دعاګانو موندلو اسانه نُسخه ده. مونږ چې پۀ کوم ځائے کښې نـمونځ اوکړو، که پۀ جومات کښې يـې وکړو، که په کور کښې يـې دا کړو، چې کله هُم، چرته هُم نمونځ وکړو، د څۀ وخت د پاره هلته کښيناستل پکار دي! چې کښينو او تسبيحِ فاطمه لولو! آية الکُرسي لولو! قُل شريف لولو! درودِ پاک لولو! که خاموشه هم ناست يو، تر څو پورې چې هلته ناست يو نو فرښتے به زمونږ د پاره د بخښنې او رحمت دعاګانې کوي.

ياد ساتئ چې فرض نمونځ د جَمعې سره کول واجب دي، که د شرعي مجبورئ په وجه چا فرض نمونځ په کور کښې وکړو او په مُصلّه باندې تر څو پورې ناست اوسي نواِنْ شَآءَ الله د هغۀ به هُم د فرښتو دعاګانې نصيب شي.(2)

## فرښتے د بخښنې دُعاګانې کوي

د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت علي المُرتضیٰ، شير خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه

---

1...موطا امام مالک، کتاب قصر الصلاۃ فی السفر، باب انتظار الصلاۃ و المشی الیھا، صفحه:100، حديث:392۔

2...التمهيد لابن عبد البر، جلد:11، صفحه:642۔

روايت دے، د دوارړو جهانو مالِک او مختار، مکي مَدَني سرکار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کله چې مسلمان د خپل مسلمان وررور تپوس کوي نو هغه د مريض سره د کيناستو پورې د جَنَّت په باغ کښې چهل قدمي کوي(په وررو وررو ګرځي، کله چې هغه کښيني نو رحمت هغه راګير کړي، کله چې ځوک سحر د مريض تپوس اوکړي نو د ماښام پورې 70 زره فرښتے د هغهٔ د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي او ځوک چې ماښام تپوس اوکړي نو د سحره پورې 70 زره فرښتے د هغهٔ د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي. (1)

سُبْحٰنَ الله! ځومره ښکلے شان دے...!! 70 زره فرښتے د سحر نه د ماښام پورې، د ماښام نه د سحر پورې د بنده د پاره دعاګانې کوي. کول څهٔ دي؟ د مريض تپوس کول دي.

## د مريض تپوس کوئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا ډير د فضيلت کار دے، زمونږ ځوک مسلمان وررور که چرې بيمار شي، هغه خوږ شي، د څهٔ پيښې سره مخ شي يا هسې څهٔ بل څهٔ ناروغي راشي نو مونږ له پکار دي چې مونږ د خپل مسلمان وررور تپوس اوکړو، د هغهٔ خوا له لاړ شو، د هغهٔ سره ميلاؤ شو، د هغهٔ د طبيعت پوښتنه اوکړو، هغهٔ له تسلي ورکړو، که د څهٔ څيز ضرورت وي او مونږ د مدد کولو وَس لرو نو د هغهٔ مدد هم اوکړو، بهر حال! که په هغهٔ غم وي نو نورو مسلمانانو له پکار دي چې د هغهٔ سره په تکليفونو کښې شريک شي، د دې په برکت به د يو بل سره محبت پيدا کيږي، په خپل مينځ کښې به اتفاق او اتحاد زيات شي او نتيجه به يے دا وي چې زمونږه معاشره به د امن او د سکون، د مينې او د محبت کور جوړ شي.

---

1...ابنِ ماجه، کتاب الجنائز، باب ما جاء في ثواب من عاد مريضا، صفحه:234، حديث:1442۔

## تپوس کول سُنَّت دي

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د مريض تپوس کول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډېر ښکلې **سُنَّت مبارک** دي. [1] زمونږ د خوږ نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا ډېر ښکلے عادت مبارک وو چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به کله خبر شو چې فلانکے بيمار دے نو که هغه به د مدينے منورې په اخرئ غاړه کښې ولې نهٔ اوسيدو، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغهٔ د تپوس د پاره تشريف وړلو. [2]

## د مخلوق د شميرې برابر نيکۍ

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د بيمار تپوس کول لکه چې څنګه د **الله** پاک د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلې سُنَّت دي، هم داسې د مخکښينو انبيائے کرامو عليهِمُ السَّلام سُنَّت هم دي، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د **الله** پاک ټول نبيان خوا خوږي او غمخواران او د غم زپلو په غم کښې شريکيدونکي وو. **په روايت کښې دي:** يو ځل **الله** پاک خپل خوږ نبي حضرت موسیٰ کليمُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام ته وحي وفرمائيله: اے موسیٰ! آيا تهٔ غواړې چې د قيامت په ورځ ستا نيکۍ د ټول مخلوق د نيکو برابر وي؟ حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام عرض اوکړو: آؤ ! اے **الله** پاکه...!! بالکل زهٔ دا غواړم. **الله** پاک وفرمائيل: اے موسیٰ! که تهٔ دا غواړې نو د مريضانو تپوس کوه! د غريبانانو د پاره د جامو انتظام کوه...!! د روايت الفاظ دي چې د دې نه پس حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام دا دواړه کارونه په ځان باندې لازم کړل. [3]

---

1...بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:505، حصه:16۔

2...وسائل الوصول الی شمائل الرسول، الباب الخامس...الخ، الفصل الخامس...الخ، صفحه:121۔

3...الروض الفائق فی المواعظ و الرقائق، صفحه:92۔

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! لږه اندازه ولګوئ چې دا څومره عظیم الشان کار دے، مسلمان ورور بیمار شو نو د هغهٔ خوا له تلل دي او تپوس یـې کول دي، د هغهٔ د طبیعت پوښتنه کول دي، ثواب یـې څومره ډیر دے.

وہ تو نہایت سستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا | ہم مفلس کیا مول چُکائیں،اپنا ہاتھ ہی خالی ہے[1]

وضاحت: د دواړو جهانو مالِک او مختار، حبیب د پروردګار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو جَنَّت ډیر پهٔ کم نرخ خرڅوي، مونږه غریبان د هغې سودا څنګه اوکړو؟ زمونږ سره خو هیڅ هم نشته.

## مسلمان ته سپک نظر مهٔ کوئ...!!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په مونږ کښې یو سوچ موندلے کیږي ، خلق د ثواب پهٔ معامله کښې هم د حیثیت خیال ساتي مثلاً تپوس ته وګورئ! که څوک مسلمان ورور بیمار شي نو دا کتلے کیږي چې زمونږ د حیثیت بنده دے که نهٔ دے، که نوکر بیمار شي نو سیټهـ صاحِب د هغهٔ پهٔ تپوس کولو شرمیږي، که نوکران بیماران شي نو مالکان صاحبان د هغوئي پهٔ تپوس کولو شرمیږي او خپله بے عزتي یـې ګڼي، دغه شان د مالداره او غریب هم فرق کیږي، دا ډیره غلطه خبره ده.

ہر ایک چیز سے پیدا خُدا کی قدرت ہے | کوئی بڑا کوئی چھوٹا یہ اس کی حکمت ہے

مونږ پهٔ دې نهٔ پوهیږو چې د **اللّٰه** پاک پهٔ نزد څوک عزت والا دے، څوک د هغهٔ پهٔ بارګاه کښې قبول دے، کیدے شي چې پهٔ ذات غریب پهٔ ایمان کښې ډیر مالداره وي، کیدے شي چې زمونږه نوکر د **رَبِّ** کریم پهٔ نزد د لوئي مقام مالِک وي، ځکه که څوک وړوکے دے که لوئي، که څوک مالداره دے او که غریب، که څوک دوست دے او که نا اشنا، که

---

1...حدائقِ بخشش،صفحه:186۔

هغه بيمار دے نو مونږ له پکار دي چې د هغۀ تپوس اوکړو او ثواب وګټو. د **مسلم شريف** حديثِ پاک دے، د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اے اِبنِ آدمه! زۀ بيمار ووم، تا زما تپوس ولې اونکړو؟ بنده به عرض اوکړي: اے زما رَبِّ کريمه! تۀ خو رَبُّ الْعٰلَمِيْن يې (تۀ د هر عيب نه پاک يې، بيماريدل ستا د شان لائق نۀ دي، اے رَبِّ کريمه! چې تۀ د بيمارۍ نه هُم پاک يې نو) ما به ستا تپوس څنګه کولو؟ **الله** پاک به وفرمائي: آيا تا ته معلومه نۀ وه چې زما فلانکے بنده بيمار شوے وو او تا د هغۀ تپوس اونکړو، که تا د هغۀ تپوس کړے وے نو ضرور به دې زما رضا هلته موندله. (1)

اَللهُ اَكْبَر! اَللهُ اَكْبَر! اندازه ولګوئ چې د يو مسلمان څومره اوچت شان دے...!! بنده بيمار شو، **الله** پاک فرمائي: اے اِبنِ آدمه! تا زما تپوس ولې اونکړو...!! واه! سُبْحٰنَ الله! د دې نه معلومه شوه چې که څوک مالداره دے او که غريب، سيټھ دے او که نوکر، کوم بنده چې مسلمان دے، د **الله** پاک پۀ نزد د هغۀ لوئې مقام دے، ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ د هغۀ د تپوس د پاره لاړ شو او ثواب وګټو.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پټي شا دُعاګانې کول

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د فرښتو د دعاګانو د حقدار جوړيدو يوه اسانه طريقه دا هم ده چې مونږ د خپلو مسلمانانو وروڼو د پاره دعاګانې کوو. **پۀ حديثِ پاک کښې دي**: د بنده د خپل مسلمان ورور د پاره د هغۀ پټي شا کړې دُعا قبوله ده. (کله چې بنده د خپل مسلمان ورور د پاره د هغۀ پۀ غير موجودګۍ کښې دعا کوي) د هغۀ د سَر خوا سره يوه فرښته مقرره وي، کله چې دا د خپل ورور د پاره دُعا کوي، فرښته وائي: آمِيْنَ وَلَكَ بِمِثْلٍ يعنې **الله** پاک

---

1...مسلم، كتاب البر و الصلة و الآداب، باب فضل عيادة المريض، صفحه:997، حديث:2569۔

دې ستا دُعا قبوله کړي او څهٔ چې تا د خپل مسلمان ورور د پاره وغوښتل، **اللّٰه** پاک دې تا ته هم هُغه شان عطا کړي.[(1)]

## د 360 دوستانو د پاره دُعا

روايت دے: حضرت ابو درداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ څوک چې صحابئ رسول دے، د هغوئي 360 دوستان وو، د هغوئي عادت مبارک وو، د نـمونځ نه پس به يـې د هُغه ټولو دوستانو د پاره دعاګانې کولې. يو ځل د هغوئي کور وداني محترمې د دې د حِکمت پوښتنه اوکړه نو اوئې فرمائيل: کله چې بنده د خپل مسلمان ورور په غير موجودګۍ کښې د هغهٔ د پاره دُعا کوي، **اللّٰه** پاک دوه فرښتے مقررې کړي کومې چې وائي: وَلَكَ بِمِثْلِ ذٰلِكَ يعني څهٔ چې تا د خپل مسلمان ورور د پاره وغوښتل، **اللّٰه** پاک دې هُغه شان تا ته هم عطا کړي.[(2)]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا ډيره اهمه نُسخه ده، که غواړئ چې زمونږه دعاګانې قبولې شي، څهٔ چې غواړم، هغه مې نصيب شي، د دې ډيره اسانه نُسخه ده څهٔ چې تاسو غواړئ، هغه د خپل ځان د پاره وغواړئ، مهٔ يـې غواړئ، د نورو د پاره يـې ضرور غواړئ، مثلاً څوک قرضدارے شو، هغه د قرض د ورکولو دعا کول غواړي نو پکار دي چې داسې دُعا اوکړي: اے **اللّٰه** پاکه! زما د فلانکي دوست، د فلانکي ګاؤنډي يا د فلانکي مسلمان ورور د قرض ورکولو ذريعه جوړه کړې. دا چې د بل چا د پاره دُعا کوي نو فرښتے به د دهٔ د پاره دُعا کوي او وائي به: يا **اللّٰه** پاکه! د دهٔ قرض وروم‌بے ختم کړې. داسې چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! مونږ د نورو د پاره دُعا کوو، فرښتے به يـې زمونږ د پاره کوي. که **اللّٰه** پاک وغوښتل نو د فرښتے دُعا به قبوله شي او زمونږ حاجت به پوره شي.

---

1...ابن ماجه، كتاب المناسك، باب فضل دعاء الحاج، صفحه:470، حديث:2895۔

2...مراۃ الزمان فی تواریخ الاعیان، جلد:5، صفحه:481۔

## د حضرت بي بي فاطِمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہا د خیر خواهۍ جذبه

اِمامِ حسن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د خاتونِ جَنَّت حضرت بي بي فاطِمةُ الـزَهراء رَضِیَ اللہُ عَنۡہا مشر شهزاده دے، هغوئي فرمائي: ما خپله والده محترمه ولیدله چې د شپې یـې د مسجدِ بیت په محراب (یعني په کور کښې د نـمونځ کولو په خاص ځائے) کښې نـمونځ کولو د دې پورې چې د سحر د نـمونځ وخت به شو.(1)

وه شب بیدار، وه صرفِ رکوع و سجدۂ پیہم | وہ جن کی ذات پہ نازاں حضورِ رحمتِ عالم

**وضاحت:** حضرت فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا ټوله شپه عبادت کوونکې، مسلسل په سجده او رکوع کښې مصروفه اوسیدونکې ده، نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هغې ناز کوي.

اِمامِ حسن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: والدې محترمې رَضِیَ اللہُ عَنۡہا به د مسلمانانو نارینؤ او زنانؤ د پاره ډیرې دعاګانې کولې خو د ځان د پاره به یـې هیڅ نۀ غوښتل. ما عرض اوکړو: مور جانې! څۀ وجه ده چې تاسو د خپل ځان د پاره هیڅ دُعا نۀ کوئ؟ اوئې فرمائیل: ځویه! اَلْجَارُثُمَّ الدَّار وړومبے ګاؤند بیا کور.(2)

## د پیشمنې کوونکو د پاره دعاګانې

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د فرښتو د دعاګانو موندلو یوه اسانه طریقه پیشمنے کول هم دي. **په حدیثِ پاک کښې دي:** پیشمنے د برکت والا خوراک دے، دا مۀ پریږدئ! بے شکه اللہ پاک او د هغۀ فرښتے په پیشمنې کوونکو باندې درود لیږي.(3)

معلومه شوه چې څوک د پیشمنې خوراک کوي، فرښتے د هغۀ د پاره د رحمت

1...مدارج النبوۃ، قسم پنجم، ذکر اولاد کرام، سیدہ فاطمہ الزہرا، جلد:2، صفحہ:461۔

2...مدارج النبوۃ، قسم پنجم، ذکر اولاد کرام، سیدہ فاطمہ الزہرا، جلد:2، صفحہ:461۔

3...مسند احمد، جلد؛5، صفحہ:119، حدیث:11706 ملتقطاً۔

دعاګانې کوي. تاسو به وايئ چې دا فضيلت خو به مونږه پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې حاصلوو. آؤ جي! پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې ضرور حاصلول دي. د دې سره سره د **رجب شريف** مياشت هم راروانه ده. سُبْحٰنَ الله! عاشقِ رمضان اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه **رجب شريف** ته د **رَمَضَانُ المُبَارَک** پاتړک فرمائي، **يعنې چې رجب شريف کله راشي نو بيا د رَمَضَانُ المُبَارَک راتګ رانزدې شو.**

خير! د رَمَضَانُ المُبَارَک روژې خو فرض دي، هغه خو مونږ ته هسې هم نيول دي، ورسره ورسره د رجب او د شعبان نفلي روژې هم نيول پکار دي.

## خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د رجب روژې نيولې

حضرت عُروَه بن زبير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهما نه پوښتنه اوکړه: آيا د **الله** پاک نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ **رجب شريف** کښې روژې نيولې؟ اوئې فرمائيل: آؤ! (روژې به يې هم نيولې) او دې له به اهميت هم ورکولو. (1)

## څهٔ چې غواړې در عطا کولے کيږي به

عارِف بِاللّٰه شيخ ضياءُ الدِّين دَيرِيني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پهٔ روايتونو کښې دي چې ❀ چا د رَجَب 7 روژې ونيولې، د هغهٔ د پاره د دوزخ دروازے بندولے شي ❀ څوک چې د رَجَب شريف 10 روژې ونيسي، هغه چې د **الله** پاک نه څهٔ غواړي **الله** پاک يې هغهٔ ته عطا کوي ❀ او بے شکه پهٔ جَنَّت کښې يو محل دے، د هٔغه محل پهٔ مخکښې دا دُنيا د مرغۍ د جالې پهٔ شان ده، هٔغه محل ته به صرف هغه داخليږي چا چې پهٔ رَجَب کښې روژې نيولې وي. (2)

---

1...كنز العمال، جزء:8، جلد:4، صفحه:301، حديث:24596۔

2...طهارة القلوب، الفصل الثانی عشر، صفحه:125۔

عبادت میں، ریاضت میں، تلاوت میں لگا دے دِل | رَجَب کا واسطہ دیتا ہوں فرمادے کرم مولا[1]

## د يو جَنَّتي نهر نوم رَجَب دے

د جنَّتي صحابي حضرت انس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، د **اللّٰہ** پاک اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پۀ جنَّت کښې يو نهر دے کوم ته چې **رجب** وئيلے شي د دې اوبۀ د پئيو نه ډيرې سپينې او د شاتو نه ډيرې خوږې دي، څوک چې د رجب شريف يوه روژه ونيسي، **اللّٰہ** پاک به هغۀ ته د دغه نهر نه اوبۀ ورکوي. [2]

## د رَجَب روژه د ګناهونو کفاره ده

د **سلطان المُفَسِّرِين**، حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه روايت دے، د نا قراره زړونو قرار، مکي مَدَني سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د رَجَّب د وړومبۍ ورځې روژه د 3 کالو کفّاره ده او د دويمې ورځې روژه د 2 کالو او د دريمې ورځې روژه د 1 کال کفّاره ده، بيا د هرې ورځې روژه د يوې مياشت کفّاره ده (يعنې د رَجَب شريف دا روژې د صغيره ګناهونو د معافۍ ذريعه جوړيږي). [3]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د **رَجَب شريف** مياشت تشريف راوړونکې ده، پۀ دې مبارکه مياشت کښې نفلي روژې ونيسئ! پيشمنے اوکړئ! د نورو فضيلتونو سره سره به مو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! د فرښتو پۀ دعاګانو کښې هم حصه نصيب شي.

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:98۔

2...شُعَبُ الایمان، باب فِي الصِّیَام، تخصیص شهر رجب بالذکر، جلد:3، صفحه:368، حديث:3800۔

3...جامع صغیر، صفحه:311، حديث:5051۔

# د فرښتو د دعاګانو اخستلو يو څو طريقې

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د فرښتو د دعاګانو اخستو نورې هم ډيرې طريقې دي، مختصر پکښې يو څو عرض کووم: ❁ د حديثونو مبارکو مطابق څوک چې د سحر نـمونځ اوکړي، بيا هلته کښيني، فرښتے د هغۀ د بخښنې او د رحمت دعاګانې کوي[1] ❁څوک چې د نـمونځ پۀ انتظار کښې ناست وي، فرښتے د هغۀ د پاره هم دعاګانې کوي[2] ❁ څوک چې پۀ نـمونځ کښې پۀ صفونو کښې جُخت ودريږي، فرښتے د هغوئي د پاره هم دعاګانې کوي ❁ څوک چې خلقو ته د نيکۍ خبرې ښائي (مثلاً د نيکۍ دعوت ورکوي، د اودس، نـمونځ او روژې وغيره احکام چا ته ښائي، د قرآن اوريدو بيانولو حلقه لګوي او د قرآنِ کريم خبرې بيانوي، د فيضانِ سُنَّت پۀ دَرس ورکولو عِلمِ دِين عام کوي)، د هغۀ د پاره يواځې فرښتے نۀ بلکې د زمکې او د اسمان ټول مخلوق د دې پورې چې ميږان پۀ خپلو سوړو کښې ، د هغۀ د پاره دعاګانې کوي[3] ❁ داسې چې څوک پۀ اودس کښې شملې، يوه فرښته د هغۀ سره پۀ خوا کښې اوسي او د هغه د پاره دعاګانې کوي.[4]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** غور اوکړئ چې دا څومره اسان کارونه دي، فضيلت يـې څۀ دے؟ کوم بنده چې دا اسانې نيکۍ کوي، فرښتے د هغۀ د پاره د مغفرت او بخښنې او د رحمت دعاګانې کوي. **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د دې نيک کارونو توفيق راعطا کړي، کاش چې مونږ د فرښتو د دعاګانو اخستو والا جوړ شو.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

---

1...مسند احمد، جلد:1، صفحه:407، حديث:1264۔

2...مسلم، كتاب المساجد و مواضع الصلاة، باب فضل صلاة الجماعة...الخ، صفحه:240، حديث:649۔

3...ابن ماجه، كتاب اقامة الصلاة و السنة فيها، باب اقامة الصفوف، صفحه:163، حديث:995۔

4...الزهد لابن مبارک، الجزء العاشر، صفحه:354، حديث:1244۔

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدرسة الـمدينه بالِغان

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د ګناهونو نه د نفرت د جذبې موندلو، د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو د سعادت حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره خپل ترون مضبوط کړئ! پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم ښهٔ پهٔ شوق برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ژوند به مو جوړ شي، که **الله** پاک وغوښتل نو د دُنيا نه به مو د بے رغبتۍ دولت هم نصيب شي او اخلاق او کردار به مو هم ښهٔ شي. پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **مدرسة الـمدينه بالِغان** هم دے.

**پهٔ حديثِ پاک کښې دي:** پهٔ تاسو کښې بهتر هغه دے څوک چې قرآن زده کړي او [نورو ته يې] وښائي. (1) ❀ قرآنِ مجيد د **الله** پاک کتاب دے ❀ د بندګانو پهٔ نوم د رَبِّ کريم پيغام دے ❀ **خو افسوس** چې نن مسلمانان د قرآنِ کريم نه ورځ پهٔ ورځ لرې کيږي ❀ ډير خلق پهٔ کتلو هم صحيح قرآنِ مجيد نهٔ شي لوستلے ❀ څوک يـې چې لولي هغوئي هم پهٔ تجويد او مخارجو کښې داسې غلطيانې کوي، چې د هغې پهٔ وجه يـې نـمونځ هم نهٔ کيږي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تنظيم دعوتِ اسلامي د قرآن پهٔ فيضان عام کولو کښې مصروف دے ❀ پهٔ کومو کښې چې پهٔ صحيح تجويد او مخارجو سره قرآنِ کريم لوستل او ښودلے شي ❀ فرض عُلُوم هم ښودلے شي ❀ سُنّت او آداب هم ښودلے شي او ❀ د ترجمې او تفسير اوريدو موقع هم ميلاويږي. تاسو هم پهٔ دې کښې شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ډير برکتونه به درنصيب شي.

## د فيشن پرست پهٔ ژوند کښې سپرلے راغلو

د حيدر آباد (سندھ، پاکستان) د اوسيدونکي يو اِسلامي ورور بيان دے چې زهٔ

---

1... بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب خیر کم من ...الخ، صفحه:1299، حديث:5027۔

يو فيشن ايبل (***Fashionable***) ځلمے ووم، د دُنيا په موج مستئ کښې ورک، د خپل اخرت د انجام نه بے خبره مې په غفلت کښې د ژوند شپې او ورځې تيرولې، زما د ګناهونو نه په ډک ژوند کښې سپرلے څهٔ داسې راغلو چې زما په مدرسة الـمدينه بالِغان کښې د داخِلې سعادت نصيب شو، بيا زما د ژوند د نيک بختئ سفر شروع شو، د مدرسة الـمدينه بالِغان برکتونو زما زړهٔ د **الله** پاک د ويرې او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په عشق روښانه کړو، په دې کښې زما د قرآنِ پاک د تعليم سره سره په سُنَّتو باندې د عمل کولو جذبه هم نصيب شوه او په هفته واره اِجتماع کښې د شرکت کولو سعادت هم نصيب شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه! په مدرسة الـمدينه بالِغان کښې د لوستلو په برکت زما په ژوند کښې سپرلے راغلو، د فيشن پرستئ، موج مستئ نه مې نجات هم نصيب شو.

| | |
|---|---|
| ترا شکر مولیٰ دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول |
| دعا ہے یہ تجھ سے دل ایسا لگا دے | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول(1) |

## قرآن ټيچر موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټيکنالوجئ دور دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قرآنِ کريم د فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: قرآن ټيچر(***Quran Teacher***). ❀ په دې ايپلي کيشن طالبِ علمان د درسِ نظامي، فيضانِ نماز کورس او زکوٰة کورس په شان د بے شميره آن لائن کورسونو د پاره رجسټريشن کولے شي ❀ په سټوډنټ پورټل (***Student Portal***) کښې د خپل آن لائن کلاس د حلو ځلو په باره کښې ځان خبر

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه: 648647۔

ساتلے شي ❀ د دعوتِ اِسلامي پۀ دې پليټ فارم باندې تقريباً د 50 نه زيات اِسلامي کورسونه کولے شي. ❀ دا ايپلي کيشن د آئن لائن کيدونکو کورسونو پۀ باره کښې هم معلومات ورکوي. تاسو هم د خپلې خوښې مطابق د هر يو کورس انتخاب کولے شئ او بغير د څۀ مشکل نه د آن لائن قرآن زده کولو د پاره داخله اخستے شئ. دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغيب وکړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ على مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❀ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ **مَدَنِي چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې خالي پۀ ورځ به هم پۀ مَدَني چينل باندې د ماسخوتن د نمونځ نه پس (تقريباً 8 بجې) اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي. ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❀ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې **دِيني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د ورځو فيضان (برکات)** رسالې اعلان کولے شي. دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر ***(Share)*** کړي! ❀ پۀ قرآنِ پاک کښې چې چرته چرته **الله** پاک د **اے ايمان والؤ!** پۀ وئيلو ايمان والؤ ته خصوصي احکامات عطا کړي دي، هُغه ټول آيتونه مکتبة المدينه پۀ دې يو ښکلي کتاب پۀ نوم **اے ايمان والو** کښې راجمع کړي دي. دا کتاب مونږ ته نيغ پۀ نيغه د **الله** پاک پۀ فرامينو د پوهيدو، يادولو او پۀ خپل

ژوند کښې د نافذ کولو بهترینه ذریعه راعطا کوي.

د دې کتاب عام قيمت 1000 روپۍ دے خو تاسو دا کتاب صبا د 19 دسمبر د ذهني ازمائش پروګرام د فائنل پورې پهٔ خصوصي ډسکاؤنټ سره د مکتبة المدينه د هرې څانګې نه پهٔ 820 روپۍ پهٔ بيعه اخستے شئ.

## زيرے

**هفته ماهنامه فيضانِ مدينه:** د ماهنامه فيضانِ مدينه سپشل بکنګ آفر (*Special Booking Offer*) د دعوتِ اِسلامي **ماهنامه فيضانِ مدينه.** د **14 دسمبر 2025** نه د **21 دسمبر 2025** پورې بُک (***Book***) کيدے شي.

**نرخونه:** ❁ رنګينه شميره: **3700 روپۍ** ❁ ساده شميره: **2300 روپۍ** ❁ انګلش شميره: **5500 روپۍ** ❁ عربي شميره: **2000 روپۍ**

## د رجب د مدني مذاکرو اعلان

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اميرِ اهلسنّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د موجوده دور يو عظيم علمي او روحاني شخصيت، بلکې يو ولئ کامِل دے. دوئي د اُمتِ مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خير خواهئ پهٔ نيت د هر اتوار د شپې نه علاوه هم پهٔ خاص خاص موقعو باندې مدني مذاکرې فرمائي. يعنې د ټولې دنيا نه عاشِقانِ رسول د تفسير، حديث، شريعت او طريقت پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې پوښتنې کوي او اميرِ اهلسنّت د هغوئ جوابونه ارشاد فرمائي. دا مدني مذاکرې پهٔ مدني چينل باندې لائيو (Live) ښودلے کيږي.

اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! اميرِ اهلسنّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه بهٔ د **وړومبي رجب شريف** د شپې نه تر **6 رجب شريف** پورې د عالمي مدني مرکز فيضانِ

مدينه کراچۍ نه براهِ راست مدني مذاکرې فرمائي. کومو اسلامي ورونړو نه چې کيدے شي هغوئي دې فيضانِ مدينه ته تشريف راوړي او په مدني مذاکرو کښې دې شرکت وکړي، يا دې په خپله علاقه کښې کېدونکې د اجتماعي مدني مذاکرې په اجتماع کښې شرکت وکړي او يا دې په خپلو کورونو کښې د مدني چينل په ذريعه په مدني مذاکرو کښې شرکت وکړي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جَنَّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## مُعَانَقه کول د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د چا چې څوک ورور وي هغهٔ له پکار دي چې د خپل ورور سره مُعَانَقه اوکړي.[2]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! غاړې ميلاوهلو ته مُعَانَقه وئيلے شي او مُعَانَقه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي. ❀ په مِرْاٰةُ الْمَنَاجِیح کښې دي چې: د

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...کَنْزُ الْعُمَّال، کتاب: الفضائل، جلد:7، جز:13، صفحه:26، حدیث:36235۔

خوشحالۍ پهٔ موقع چا ته ورغاړه وتل سُنَّت عمل دے [1] خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خو خو کرته پهٔ صحابهٔ کرامو باندې شفقت کولو او هغوئي ته به يې د مُعَانَقې شرف عطا کولو. مثلاً ❁ د خيبر پهٔ موقع باندې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپلې سينې مبارکې ته راجُخت کړو او پهٔ تندي باندې يې ښکل هم کړو. [2] ❁ يو ځل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت ابو ذَر غفاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه راوبللو، کله چې هغوئي حاضر شول نو په شفقت سره يې هغوئي سينې ته راجُخت کړو. [3]

داسې هلکان چې بِيره يې نهٔ وي راغلې هغوئي سره معانَقه کولو نه احتياط کول پکار دي، ځکه چې په فِتنه کښې د اخته کيدلو خطره ده.

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو (4) |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

---

1...مرآة المناجيح، جلد:6، صفحه:359۔

2...ابو داؤد، کتاب:الادب، باب: قبلة ما بين العينين، صفحه:813، حديث:5220۔

3...ابو داؤد، کتاب:الادب، باب: قبلة ما بين العينين، صفحه:812، حديث:5214 خلاصةً۔

4...وسائل بخشش، صفحه:669۔

# د رجب الـمرجب متعلق مکتوبِ عطّار

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د الله پاک په کرم سره د عِزّت والا مياشت رَجَبُ الْمُرَجَّب راتلو والا ده، مونږ له د رجب شريف بابرکته مياشت څنګه تيرول پکار دي؟ راځئ چې د دې په باره کښې د اميرِ اهلسُنّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مکتوب (يعنې خط مبارک) واورو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم د سګِ مدينه محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي عُفِيَ عَنْهُ له طرفه، د ټولو اسلامي ورونړو مدارِسُ المدينه او جامِعاتُ المدينه استاذانو او طَلَبه په خِدمتونو کښې د کعبه مُشَرَّفه نه ګير چاپيره تاؤ شوے او ګُنبَدِ خَضرا ښکلَوونکے د رَجَبُ الْمُرَجَّب، شَعْبَانُ الْمُعَظَّم او رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژه دارو د بَرکتونو نه ډک سلام،

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ عَلٰى كُلِّ حَال

ہو نہ ہو آج کچھ مرا ذکر حُضور میں ہوا
ورنہ مری طرف خوشی دیکھ کے مسکرائی کیوں

(حدائقِ بخشش شریف)

اَلْحَمْدُلِلّٰه! يو ځل بيا د خوشحالو ورځې راتلونکې دي، دَ رَجَبُ الْمُرَجَّب مياشت ډير زر راتلونکې ده. په دې مُبارکه مياشت کښې دَ عِبادت تُخم کرلے کيږي، په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم کښې هغې ته د پښيمانۍ د اوښکو اوبه ورکولے کيږي او دَ رَمَضَانُ المُبارك په مياشت کښې دَ رحمت فصل ريبلے کيږي.

## د رَجَبُ الْمُرَجَّب د وړومبو درې روژو فضیلت

د رَجَبُ الْمُرَجَّب قدردانو! که په تَعلِیم و تَعَلُّم (یعني سبق وئیلو او ښودلو) او حلال کسب [کاروبار، مزدورئ وغیره] کښې مو څه رُکاوټ نه راځي، مور او پلار هم بے وجهې نه منع کوي او د هیڅ چا حق تَلَفي هُم نه کیږي نو زر زر او ډیر زر مسلسل د درې میاشتو یا د رَمَضانُ المُبارك د فرضو روژو سره د چا نه چې څومره کیدے شي د هغه همره نفلي روژو د پاره ملا وتړئ، په پیشمني او روژه ماتي کښې د کم خوراک په ذریعه د خیټې قُفلِ مدینه هم ولګوئ. کاش! چې په هر کور کښې او زما په ټولو مَدارِسُ المدینه او ټولو جامِعاتُ المدینه کښې د روژو سپرلي راشي، بس د وړومبي رَجَب نه روژې نیول شروع کړئ.

د رَجَب شریف د وړومبو درې ورځو د روژو د فضائِلو به څه وائې! د حضرت سَیّدُنا عَبدُالله بنِ عَبَّاس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه رِوایت دے چې د آخري نبي محمد عربي مکّي مَدَني صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رحمت نه ډک دے: "د رَجَب د وړومبئ ورځې روژه د درې کالو کفَّاره ده او د دویمې ورځې روژه د دوو کالو او د دریمې ورځې د یو کال کفَّاره ده، بیا د هرې ورځې روژه د یوې میاشتې کفَّاره ده." (1)

میں گنہگار گناہوں کے سوا کیا لاتا نیکیاں ہوتی ہیں سرکار نِکوکار کے پاس

ما ګنهګار څه وے راوړي د ګناه نه سِوا نیکئ خو وي زما سرکاره د نیکانو سره

د نفلي روژو هم څه ښکلي فضائِل دي! په دې باره کښې دوه احادِیثِ مُبارکه واورئ:

**(1)**: حضرت سَیّدتُنا اُمِّ عَمَّاره رَضِیَ اللہُ عَنۡہا فرمائي: حُضُورِ پاک، صاحِبِ لولاک، سَیَّاحِ افلاک صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما کره تشریف راوړو نو ما د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمَتِ

---

[1]... جامع صغیر، صفحہ:311، حدیث:5051، فضائل شہر رجب للخلال، صفحہ:7۔

بابَرَکت کښې طعام پيش کړو نو اِرشاد ئې وفرمائيلو: ”ته هم اوخوره.“ ما عرض اوکړو: زما روژه ده. نو رَحمَتِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: تر څو چې د روژه دار په مخکښې طعام خوړلے کيږي، فرښتې د هغه (روژه دار) د پاره د بخښنې دُعا کوي.[1]

**(2)** حَضرت سَيِّدُنا بِلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دَ نَبيِّ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمتِ کښې حاضر شو، هغه وخت حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ناشته کوله، وئې فرمائيل: اے بِلال! ناشته وکړه.“عرض ئې وکړو: ”يا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما روژه ده.“ نو رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ”مونږه خپله روزي خورو او د بِلال رِزق په جَنَّت کښې زياتيږي.“ اے بِلال! آيا ته خبر ئې چې تر څو د روژه دار په مخکښې څه خوړلے کيږي تر هغې پورې د هغه هډوکي تسبِيح کوي [او] هغه ته فرښتې دُعا کوي.“[2]

مُفَسِّرِ قرآن حَکيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د دې نه معلومه شوه چې که د خوراک کولو په وخت کښې څوک راشي نو هغه ته هم د خوړلو سَت کول سُنّت دي، خو د زړه په اِراده دې ورته سَت کوي د دروغو سَت دې نه کوي، او راغلے کس دې هم دروغ نه وائي چې زما زړه ته نه کيږي، چې لوږه او دروغ يو ځائے نه شي، بلکې که خوړل نه غواړي يا وِيني چې خوراک کم دے نو وه دې وائي بَارَكَ الله (يعني الله پاک دې بَرَکت درکړي) دا هم معلومه شوه چې د سَروَرِ کائِنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه خپل عبادتونه پټول نه دي پکار بلکې ښکاره دې ئې کړي چې حُضُورِ پرنُور، شافِعِ يَومُ النُّشُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغې باندې ګواه جوړ شي. دا ښکاره کول رِياکاري نه ده. (د حضرت بِلال د روژه نيولو په اوريدو ئې چې څه وفرمائيل د هغې شرح دا ده) يعني مونږه خپله د نن روزي خو هم دلته خورو او حضرت بِلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به

---

[1]...ترمذی، حدیث:785۔

[2]...شُعَبُ الِایمان، جلد:3، صفحہ:297، حدیث:3586۔

ئې د دې په بدله کښې په جَنَّت کښې خوري هغه بدله به د دې نه غوره هم وي او زياته به هم وي. حديث بالكل په خپله ښكاره معنٰى دے، واقعي هغه وخت د روژه نيونكي هر هډوكے او جوړ بلكې رَګ رَګ تسبِيح (يعني د الله پاک پاكي) بيانوي، چې په هغې روژه نيونكے نه پوهيږي خو سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې اوري. [1]

كه دا دواړه رسالے (۱) "كفن كى واپسى مَعَ رَجَب كى بهاريں" او (۲) "آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كا مهينه" مو لوستلې وي نو بيا ئې هُم ولولئ. او هر كال په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم كښې د فَيضانِ سُنّت جِلد اوّل، باب "فَيضانِ رَمَضان" هم ضرور لولئ. كه كيدے شي نو دَ عِيدِ مِعراجُ النَّبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نِسبت 127 يا 27 رِسالے يا د خپل وَس مُناسِب "فَيضانِ رَمَضان" هم تقسيم كړئ او ډير ډير ثوابونه وګټئ، عام طور د ټولو اسلامي ورونړو او خاص طور د جامِعاتُ المدينه او مدارِسُ المدينه د ټولو قاريانو صاحِبانو، اُستاذانو، ناظِمانو او طالب عِلمانو په خِدمتونو كښې زما ډير زيات مَدَني عرض دے چې برائے كرم! (زما په ژوند هم او زما دَ مرګ نه پس هم) زكوٰة، فِطره، د قُربانئ څرمنې او په نورو عطياتو [يعني چنده] جمع كولو كښې پوره پوره حصّه اخلئ. قسم په خدائے! زه چې د هغه استاذانو او طالبِ عِلمانو په باره كښې واورم نو ډير خوشحاليږم كومو چې خپل كلي يا ښار ته د تللو د خواهِش قرباني وركړې وي او رَمَضَانُ المُبارك په خپلو جامِعاتو كښې تيروي او د خپل مجلِس د هدايت مُطابِق د چندے په بَستو (يعني ډونيشن كاؤنټرز) باندې ذمه واري سنبالوي، كوم اُستاذان او شاګردان چې بغير د څه مجبورئ نه صرف د سستئ يا د غفلت په وجه د عطياتو نه جمع كولو مُظاهره كوي د هغوئي په وجه زما زړه ژاړي.

---

1...مراۃ المناجیح، جلد:3، صفحہ:202۔

**خصوصي مَدَني ګل:** کوم اسلامي ورور چې چنده راټولول غواړي د هغوئي د پاره د چندے ضروري احکام معلومول فرض دي، تاکيد دے چې که مخکښې مو لوستلي وي نو هم د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارے مَكتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوے د 100 صفحو کتاب، "چندے کے بارے میں سوال جواب" بيا ولولئ. يا الله پاکه! په رَمَضانُ المُبارَك کښې د چندے او په غټ اَختر کښې څرمنو راټولولو د پاره کوشش کوونکي کوم عاشِقانِ رَسُول چې زما زړه خوشحالوي، ته د هغوئي نه د هميشه هميشه د پاره خوشحاله شې او د هغوئي په خاطِر ما د ګنهګارو د سردار نه هم د هميشه د پاره راضي شې، يا الله پاکه! کوم اسلامي ورور چې (د عُذر نه کيدو په صورت کښې) هر کال د درې مياشتو روژو نيولو او هر کال جُمادَی الْاُخْرٰی کښې رساله "کفن کی واپسی مَع رَجَب کی بہاریں" او د رَجَبُ الْمُرَجَّب په مياشت کښې" آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کا مہینہ" او په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم کښې "فَيضانِ رَمضان" (پوره) د لوستلو يا اوريدلو سَعادت حاصل کړي ما ته او هغه ته د دُنيا او آخِرت ښيګړې رانصيب کړې او مونږه بے حِسابه وبخښې او په جَنَّتُ الفِردوس کښې مو د خپل خوږ مَدَني حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ګاونډ کښې يو ځائے لرې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ على مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لَوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې

د سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.(1) راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.(2) راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2 . . . القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَافِیْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حیران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث:۴۴۱۵